
کابل

دژمي شگوفه

دعبدالرؤف «بینوا» د صحافت مدیر
په اهتمام
آدرس پښتو ټولنه، د «ابن سینا» واټ
تلګرافي عنوان: کابل، پښتو ټولنه
ټوله لیکونه وع، عبدالرحمن
«پژواك» د پښتو ټولنې عمومي مدیر
ته کېږي.

کابل

(میاشتنۍ مصوره مجله)
(ادبي، اجتماعي، تاریخي)
د پښتو ټولنې د صحافت له څانګې
څخه خپرېږي

اشتراك
کابل: ۲٤ افغاني
دننه مېنه ۲٦ «
دباندې ۱ سترلنګ پوند
دښوونځیو زده کوونکو ته ۱٤ افغاني

۱۱ کال . . . ددلو دمیاشتې ۱۳۲۰ - دجنوري ۱۹٤۲ ع ؛ (۱۱) ګڼه

ددې ګڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
ملي اشعار	ښاغلي «پژواك»	۱
غزل	« صوفي عبدالحمید	٤
داولي؟	« « جرار »	«
دمهجوري نجلۍ اختر	« « بینوا »	٥
دمین خواست	« « خواخوږي »	«
نه پوهیږم؟	« « الفت »	٦
دپسرلي په یاد	« « نظامي »	۷
دژبې قانون	« « رشتین »	۸
دپښتو خصوصیات	« « اخلاص »	۱۰
دژبې اصلیت	« « ایازي »	۱۲
شفاهي ادبیات	« « کهزاد »	۱٤
میکروکسمس	د « « هاشمي » ترجمه	۱٥
له هرې خولې	دصحافت څانګه	۱۷
ژولۍ	د « « خوږمن » ترجمه	۱۸
دباد طوفان	د « « بریالي » «	۱۹
رولا	د « عزیزالرحمن	۲۰
داصلاح یاد داشتونه	دصحافت څانګه	«
عکسونه (٤) قطعي		

Kabul

Revue mensuelle scientifique, historique, littéraire, publiée par la section des publications et de la presse de l'Académie Afghane.

Abonnements :	ville de Kaboul	1 an	12 afgs.
	Provinces d'Afghanistan	«	14 «
	Etranger	«	10 S

No. 131 Januier

مجله بیا کوچینۍ شوه

بشر بیا په امنیت کی څه بې خیری ولیده چه دصلح ودرمنده ته ئې اوروا چاوه ـ او انسانانو یو دبل ووینو تویولو ته لېڅې غښتی دی ؟

دې اور یوازی هغه ممالك چه داور دبلېدو سبب گرځېدلی دی نه دی سوځلی ، بلکه د دې اور لمبو دهغو هوادو چه هیڅ دجنگ عزم نه لری ، هم اقتصادی او تجارتی معاملاتو ته زیان رسولی دی .

څه موده دمخه زموږ دمجلې څوپاڼی دکاغذ دلږ والی په بحران کی تللی وې ، اوس بیا چه دابحران ورو ورو ډېرېږی ، نودامجله هم مجبوره شوه چه دوطن دمطبوعاتو سره داتاوان پراوزه واخلی ـ اوداباعث دی چه بیائې نیمی (۱۰) پاڼی ددې بحران په مخ کی کښېښوولې ـ نوهیله لرو چه گران لوستونکی زموږ دامعذرت ومنی . اوهم خدای دی وکی چه پدې لږو پاڼو کی دلوستونکو رضامندی ولاس ته راولو .

نور نوڅه خبر یو؟ چه دقدرت لاس به کله بیادصلح اوامنیت کمبله په دې نړۍ کی وغوړوی چه موږ بیا خپله مجله پر پخوانی حال وو یو نکو ته تقدیم کړو . (دصحافت څانگه)

ملی اشعار

(۲)

دښاغلی پژواک د کنفرانس ترجمه

چار بیته عموماً پردوه ډوله ده ، یوه هغه ده چه هر بند ئې دوه بیته یعنی څلور مصرع ولری - او بله هغه ده چه هر بندئې څلور بیته یعنی اته مصرع وی .

که څه هم ځینی نوری چار بیتی هم پیدا کیږی چه د مصرعو په تعداد کی به له پورته ډولو څخه متفاوتی وی ، مگر هغه عموماً دشعر او په دیوانونو کښ لیده شی . او په ملی ادب کی دادوه ډوله شته :

مثال :

ماز یگر را شه په تلواری ځما یاری
گودرله ځمه چه ملگری شو په لاری

ماز یگر را شه په تلوار زه یم بلبله — له جنگو نه پاتی شوم ستا له کبله
تا چه خبره د کو کی را ته کو له — راځه چه در کم سپینه خوله زلفی تارتاری

ما زیگر را شه . . . . .
گو د ر له ځمه . . . . .

زلفی تار تار می غوړ ولی را ته گوره — مړ و ند می نیسه مه بیر ېږ ه له پېغو ر ه
چه می دادا کله را و و زی له کوره — راځه چه کېنو په دې سره پالنگ فلاری

ما زیگر را شه . . . . .
گو د ر له ځمه . . . . .

پارسی ترجمه: ای محبوب هنگام عصر بعجله بشتاب . من برای گرفتن آب (بگودر) میروم تاباهم همراه باشیم .

هنگام عصر شتاب کن ، من بلبلی هستم که از خیل دوشیزگان برای خاطر تو خود راعقب مانده ام . تو که راجع به لب لعل بمن صحبت میکردی اکنون بیا که سپینه خوله (سپینه خوله در برابر لب لعل) و زلف های تار ومارم رابتو تقدیم کنم .

هنگام عصر به عجله بشتاب ، من برای گرفتن آب بگودر می روم تا باهم همراه باشیم .

بمن نگاه کن بنگر موهای پریشان وتار تار خود راباز کرده ورها نموده ام بیابازوی مرابگیر و از پیغور وطعنه شرم مدار .

گاهیکه پدرم ازخانه بیرون شود بیابروی این پالنگ سرخ بنشینم وآرام کنیم .

❀ ❀ ❀

ددې چار بیتو مضمون یاعشقی اویارزمی دی تاریخی حقایق عشقی اورزمی افسانې عموماً دداسی شعر په نوع کی راځی .

بل مثال :-

د ښائست آوازدی لاړه په عالم کښې لور په لور
زه دی سوی یم په اورتیك دی کوز که له جبینه

د ښائست آوازدی لاړه په کابل په هندستان
ځکه ناست یمه حیران رار سیږ ی یا نصیبه
عاشقی ده ډیره گرانه ځی داوښومی باران
پری می لوند شولو گریبان یو یه نشوم په ترتیب
په هر چا باندی تیر یږی دفانی دور دوران
خوك راځی خوك تری روان که شم یاروته قریب
باری خیل دی که پردی را کوی راته بیغور
ستر گی نشمه نیو لی گو ره ډوپ ستا په مینه

د ښائست آوازدی لاړه په عالم کښې لور په لور
زه دی سوی یم په اورتیك دی کوز که له جبینه

د نری زنی د پاسه د خالونه دی قطاره
نوری زلفی دتار تاردی پرتی لکه ور یځی
په سینه کښې د پوخ شویدی د مینی دوه اناره
درته پروت یمه بیماره دارومی د مرض ئی
رب د نکه خوك په رنځ د مینی گرفتاره
نن د ځان کړلو سنگار بیگامی په اورسوزی
کله زیر شی کله بم شی سره گنگرود کوی شور
قدم اخلی په تکو ښا پیری را غلی له چینه

د ښائست آوازدي لاړه پرعالم کښې لور په لور
زه دی سوی یم په اورتیك دی کوز که له جبینه

پارسی ترجمه :-

هنگامیکه حسن واوازهٔ ښائست تودر آفاق عالم پرا گنده شده است مرادر آتش سوختی، تیکه را از جبینت فرود آر .

اوازهٔ حسن توتا کابل وهند رسید ، من درحیرت نشسته ام . ای نصیب وقسمت من ، تو بمن رسی عشق بازی کار مشکل وسنگینی است . باران اشك های من فرود میاید گریبان من ترشده است نمیدانم به چه ترتیبی .

و دور فا نی بر هر کسی میگذرد . کاروان زمان جاریست کسی می آید وکسی می رود هر کس خود را به محو بش نزدیك می خواهد آشناوبیگانه بمن طعنه می‌زنند . وبمن پیغور مید هند.چشمهایم رانمیتوانم بالا کنم . بمن نظر کن وبنگر دربحر عشق تو غرق شده ام .

هنگا مهٔ حسن تو در آفاق پرا گنده شده است . مرادر دادی ، تیکه راا ز جبینت فر و د آ ر .

بالا ی ذقن باریك وزیبائی تو خال‌ها قطار اند ، زلفهای سیا هت مانند ابر ها فرود آمده اند روی سینه ات دوانار عشق به ثمر رسیده است . من بیمار توام ، تو دوائی درد من هستی . خدا کسیرا بدرد عشق گرفتار نکند . امروز ارائش کرده‌ای، هنگام‌شب مرا آتش می‌زنی ، گاهی زیر وگاهی بم میشوی گنگروها وپازیب های‌تو هنگامه وشور برپا کرده اند .

قدمهای تو شمرده وکنده کنده برداشته می‌شوند . پری هستی که از خطهٔ چین آمده ئی .

هنگا مهٔ حسن‌تو در آفاق پرا گنده شده است مرا آتش‌زدی تیکه را ازجبینت فرود آر.

٥ :- ناري یا غږ ونه :

دانوع اشعار آزاد اشعار بللی‌شو، ناري یاغږونه دیه مصرع لری ، کله دواړه مصرع سره هم قافیه اویوله بله‌برابروی او کله نه وی .

ځینی ناري دلنډیو په توگه وی چه یوه لنډه مصرع اویوه اوږده مصرع لری په نارو کی دقافیې او ردیف یوالی شرط نه‌دی دا اشعار لکه نوراشعار دعروض ترقانون لاندی نه‌راځی یدې قسم اشعارو کی اکثراً اوږ دې افسانې او اساطیر ویل کیږی .

دتسمیی وجه ئې عموماً داده چه دا اشعار ددوومینو ناري دی، چه یوپربل باندی ئی کوی .

دانوع اشعار په قندهار اوفراه کی ناري اودمملکت په نورو برخو کی غږورته وائی چه د آواز اوصدامعنی لری .

مثال :- دفتح خان له ملی افسانې څخه :

که دوې دی کلا بست دروازې دوې دی
په یوه فتح خان وزی په دابله ئې دمور دمورسوی ناري دی .

بل مثال :- دمؤمن خان اوشیرینو له افسانې څخه :

په دې افسانه کی لکه دمخه چه وویل شوه ناري دلنډیو په توګه دی، هغه وخت چه رمن خان دهند په سفر ځی ، شیرینو داسی ناره پر کوی :

تا د سفر موزې په پښو کړې د زیړو ګلو باغ په چاسپاری مینه

پاړسی ترجمه :- توموزه های سفررا به پا کردی ، ای محبوب من این باغ گلهای زرد را به که ی سپاری .

مؤمن خان په جواب کی داسی وویل :

ماد سفر موزې په پښو کړې دزیړو ګلو باغ په خدای سپارم مینه

پاړسی ترجمه :- من موزه های سفررا بپا کردم . باغ گلهای زرد را بخدا می سپارم .

دلته باید داهم وویل شی شیرینو چه دزیړو ګلو باغ یاد کی دهجر دروځو تخیل دی چه د ـ ل محبوب له تګ ئې دحسن ارغوان په زعفران بدلېږی ، نوخپل ځان دزیړو ګلو له باغ سره تشبیه کوی .

٦ :- بګتی

دانوع لکه لنډۍ څوچه ملی اشعار اوډېر مؤثر دی . اوهم له جذباتو څخه ډك دی ،

ملی شاعرانو بدې قسمت کی ډېر زیار ایستلی دی، بېله دې چه انسان دداسی اشعارو په مقابل کی په و ـ دراشی اوپه حیرت اخته شی نورڅه نشی کولی - ویونکی ئې دویلو اواروېدونکی ئې داروېدلو په وخت مست اوملنګ وی . زه دوجد اوطرب دحالت دپاره تردې بهتر تعبیر نه لرم .

رشتیائې داچه دااشعار داحساساتو شراب دی چه دزړه په ساغر کی توئېږی اوسر شاروی ئې -

بګتی لکه چاربیته یومطلع لری، چه هغه بیادوه مساوی مصرع لری چه قافیه کی سره برابروی اوبیانوتردې وروسته بندونه وی چه هر بندئې څلور مصرع ولری ، دری مصرع ئې پر یوه قافیه وی ، اوڅلرم مصرع ئې له مطلع سره په قافیه کی برابر راځی ، اوبیرته سر له مطلع سره تکرارېږی .

دبګتی اوچار بیتی دافرق دی چه دچاربیتی دمطلع دوه مصرع په قافیه کی سره برابر نه وی . مګر دلته باید په یوه قافیه وی.

هغه شی چه دبګتی امتیاز ښه څر ګندوی ، تلوار اوسرعت اومستی ده چه دویلو په وخت کښ لیدل کېږی، لکه وجد اوطرب په وخت کی چه داحساساتو څپې په ډېر شدت یو پر بل توئېږی هم دغه رنګه مصرعی سره پر یوزی او آهنګونه سره تاوېږی .

مثال :

داتوری ستر ګی رانه تېر ېږی
له حاله ځما کله خبر ېږی

داتوری ستر ګی سره ئې لاسونه په بام ولاړه کوی سیلونه
اور بل کښ ایښی تازه ګلونه مین به څنګه ورنه جار ېږی

داتوری ستر ګی رانه تېر ېږی
له حاله ځما کله خبر ېږی

پاړسی ترجمه :- با چشمان سیاه از پهلوی من میگذرد ، کی از حال من خبر دارد ، چسان خبر خواهد شد .

چشمان اوسیاه ودستهای اوسرخ اند ، بر بام ایستاده تماشامی کند . گلهای تازه را در بین موهایش گذاشته است- عاشق چطور خودرا برای اوقربان میکند - باچشمهای سیاه از پهلوی من میگذرد -

کی از حال من خبر دارد چسان خبر خواهد شد .

ادبیات

غزل

ښاغلي صوفي عبدالحميد

کله به راشي ځما په پوښتته مريض يم، تل پروت په انتظار ستا
راشه قدم کيږده ځما پر ستر گو، چه ځان قربان کړم حيات نثار ستا

پر لار دې پروت يم په انتظار تل، ډېر نا توانه ډېر بيقرار تل
په دې اميد زه خاکسار تل، که يوار پېښ شي پر ما گذار ستا

غمو هلاک کړم له هره لوره، پردردې پروت يم پر سر سر توره
و ما غريب ته يوار وگوره، زدې قربان سم زدې سم جار ستا

دين و دنيامې په اول وار کښ ترتا قربان کړه زدې قربان شم
ستاوحضورته نورڅه تقديم کړم، سرمې حاضر دی که وی په کار ستا

هستی مې ولاړه ای ځما دلداره، نيستی نابود کړم د خدای له پاره
د عشق تاثير کړم بې اختياره، ټو له مې بايلو آخر په لار ستا

کله به خلاص شم له دې ماتمه، زړ گی مې چاودی له ډېره غمه
په سد کی نه يم ناري و همه، معذور مې بو له يم بيقرار ستا

ای ځما دلبره د زړ گی سره، دخپله عمره شی بهره وره
«صوفی» دعا کاله خدايه غواړی، په خوشالی تل ليل ونهار ستا

داولې؟

ښاغلي غلام رحمن جرا

زه بلبل د صبحدم نه يم داولې ؟
طلبگار دسور چمن نه ئې دا ځکه !

زه دسرو ستر گو په نم نه يم داولې ؟
په خپل غم باندې غمجن نه ئې دا ځکه !

هيڅ مې زړه دمهرو يانو پلورنه ځی
په مرض د عشق پمن نه ئې دا ځکه

په شيرين وطن مې ولې پروانشته ؟
دفرهاد غوندې کوهکن نه ئې دا ځکه

معطر دچا د ماغ را باندې نه شو
ښا ئې مښک به د ختن نه ئې دا ځکه

د بلبل ثنا مې نه رسی به غوږ و
سور گلاب دسمسورېڼ نه ئې دا ځکه



ز موږ ونی په
کال کی دوه
واره شګوفه
کوی



د ژمي شګوفه

کابل بې زړه ښه دی ، بې واوری نه

د دهقان سترګی چه و آسمان ته په انتظار وې ـ د کی شوې

د مهجوری نجلی اختر

عبدالرؤف « بینوا »

مینه دی اور شوه گرانه نگاره !
سترگی څلور شوې له انتظاره
رنگ می الوتی سینه افگاره
پریشان اوربل می خپور دی بېکاره
پر څه جلا یې ـ ؟ دخدای د پاره
راشه اختر دی
مسافر یاره !

وخت د سهار دی نسیم چلېږی
د غرو لمنی گلان غوړېږی
زرکی دی خاندی آبشار بهېږی
یو تا نه وینم ویرمی زیاتېږی
په امید گورم د راتلو لاره
راشه اختر دی
مسافر یاره !

نجونی هر لور ته کوی سیلونه
په هوس ناڅی خوشاله زړونه
سترگی ئې توری سره ئې لاسونه
څوك دیار غېږ کی کوی نازونه
آه ـ یوه زه یم په زړه بیماره
راشه اختر دی
مسافر یاره !

کږدی ـ شوې توری زما له غمه
سترگی خونباری د زړه له نمه
یمه لوېدلې له خپله برمه
که ته راتغلې خدا یږو چه مرمه
ولی می وژنې ؟ په زړه خونکاره !
راشه اختر دی
مسافر یاره !

ځوانی می دود شوه پېغلتوب خاوری
بېلتون ایرې کړم له یوې واری
زړگی می وچاود وینی شوې داری
ورکی له مانه دژوندون چاری
یم بې نصیبه ستاله دیداره
راشه اختر دی
مسافر یاره !

پسته می غېږده د رته نیولې
سپینه خولگی می تا ته ساتلې
د هجر اورمې سینه داغلې
په انتظار دی غره ته ختلې
په تن ستومانه روح ناقراره
راشه اختر دی
مسافر یاره !

(لوی اختر ـ دلغمان چار باغ)

دمین خواست

ښاغلی محمدابراهیم « خواخوږی »

په اور سوی یم کباب زه ستاله غمه خماری سترگی راواړوه صنمه
چه ویشتلی دی کاری یم جوړ به نسم مگر جوړ کړم ستا دسرو شونډ وملهمه
مریضان دی په لید و سره جوړېږی
مینان دی په ښه مینه هوسېږی

چه ته نه ئې ټول جهان راته سوراوردی بې له تاراته ویجاړ خپل کلی کور دی
آزادی می ستا د مینی په تړون ده ستا بېلوالی راته سخت تر بند د گور دی
زه په تاباندی مین یم د زړه سری !
لږ په مینه راته وگوره دلبری !

گرانی راشه د دیدن دی تما داریم زه بندی دی د پریشان اوربل په تاریم
د مجنون په شانی گرځم سر گردانه کړولی دی د مینی په انگاریم
لېونی یم پر سارا زما مسکن دی
چه می زړه پر تاخونخواری بیامین دی

منثور شعر

نه پوهیژم

ښاغلی گل پاچا «الفت»

له دې شنه اسمان لاندې ، ددې لوړو غرو په لمن کښې پدې خاورینه ځانگو کښې ، ددې سپینې سپوږمۍ اوروښانه لمر په رڼا کښې خومره شیان ښکاره شوی اولیدل شویدی .

هو! پدې زړه مینه ډېر کاروانونه تېر شوی اوخپل اورونه ئې بل کړی مگر بلې شپې ته نه دی پاتې شوی - دلته ډېرې خیمې او کېږدۍ دریدلی، پدې شپول کښې ډېری رمې پنډې شوی، پدې ناوونو کښې ډېرو شینو شپېلۍ اود سوزناري اوریدل شویدی- ددې گودر په غاړه ډېرو پیغلو منگی مات شوی چه اوس یې گودرۍ هم نشته .

هغه کسان چه تاسې یې اوس دژوند پېښې په ډېر تعجب اوری ، له همدې خاورویې سرونه اوچت کړی اوپه همدې ډگرې راز راز لوبې کړیدی .

دهغوی د تورو بریښنا تراوسه پدې لویه فضا کښې ترستر گو کېږی ، اوغږونه یې دهوا په امواجو کښې زمونږ دسر دپاسه گرزی -

دهغوی پل لاتر اوسه پورې ددهر اوزمانې له مخه نه دی ورک شوی اونومونه ئې د کاینات و په حافظه کښې پاتې دی.

دهغوی دیادگارونو خلی اوس هم پدې غرو اورغو کښې ولاړ دی مگر دوی پخپله یو یو دمځکې تل ته ښکته شوی اوپېرته همدې سپېرو خاورو خوړلی دی - نه پوهیژم چه داخاوره زیږوونکې ده که محوه کوونکې .

پدې سپېره بیدیا شپه او ورځ بارانونه وریدل ، او دپسرلی وږمې هر سحر ددې غرو له لمنو ورته راتلی ترڅو چه دادامان په زېړو گلو اوشنو بوټو پټ او ښایسته شو ، خوه پرژر دهمدې غرو سیلۍ اوخړو سیلا بو نو له رنگ اوبوی سره ویوړه .

. نه پوهیژم- چه داوږمې اودا اوبه زرغونوونکې دی که فنا کوونکې .

داشپې اوورځې ، میاشتې او کلونه چه راځی او تېرېږی کله غم راوړی او کله خوشحالی ، ځینې کسان ځلمیتوب ته بیائی اوبعضې نور دځوانۍ او ژوند له گړنگه غورځوی - دچادپاره دحیات اوژوند تاریخ شی اودځینو دپاره دمرگ نېټه و گرزی ، ځینې بوټی مړاوی کړی اوخه نور نوی را پیدا کړی .

نه پوهیژم- چه دالمر اوسپوږمۍ بهارراولی که خزان .

دا پټراز دزمانې په زوړ اوشکېدلی کتاب کښې چه سر او آخر نلری له هر چاپټ دی اوهیڅوک پرې نه خبر ېږی.

داشپې اوورځې لکه الفاظ او کلمات چه کله ورځنې دغم سندره جوړه شی او کله دخوشحالۍ بدله شی، سل رنگونه قبلوی او دژوند افسانه دومره مرموزه ښکاره کوی چه څوک یې تر اژدی بولی اوڅوک ورته کومیدی وائی.

نه پوهیژم- چه شپې اوورځې خپله لمن څنډی او که څه پکښې راتولوی .

مونږ ددې سپېرو خاورو مېوې اودانې ، ددې لوړو غرو یخې اوخوږې اوبه ، ددې هوا اوفضا رازرازمرغان خورومگر مونږ هم داسپېرې خاورې خورې- خوهضمولی مونشی - نوهروخت چه وی اوپه هرراز چه وی دامځکه به مونږ بېرته وگرزوی چه بیابه مو خوړلی نشی .

نه پوهیژم- چه دابه کله وی اوڅنگه به وی .

د پسرلی په یاد

ښاغلی یار محمد « نظامی »

پسرلی تېرشو ، دچمن خزان اودریحان دمړاویتوب وخت راغی د ګلونو نشاط دبلبلو چنګی وپای ته ورسید !

خوش آوازه مرغان چه په ډېروجد اوسرور به دونو پرزرغونو ځانګو آزادانه الوتل اوپه خپلو ښکلووزروبه ئی دطبیعت دنقاشی وپردونه جلوه ور کوله او دننداره کوونکو روح به ئی په خپلو خوږواو جذابونغمو نازاوه ـ نن له پروازه لوېدلی اوله باغه لېری پته خوله پر ګوښو ګرځی . . . !

اوبه په آبشارو اوولو کی له خپل مهیب ږغه لوېدلی ، اوس غالباً لکه دیو ډېرمهجور مین ستر ګی سړې اووچی شوی دی .

طبیعت دپسرلی جوش او خروش له لاسه ایستلی ـ په صحرا ، غر واور غو کی یو غمګین حالت ښکاری ـ ورځ په ورځ خپل طراوت اوتازه ګی بایلی ، دافسردګی او پېژیتوب وخواته ځی !

هغه خوش نوامرغان چه دپسرلی دسر سبزی په خو بې پایه روځو ئی زړه تاړه له نواخخه بینوا شوی اودسکوت مهرئی په خوله لګولی دی .

هغه باغ چه درنګارنګ اوښکلو ګلونو په سبب ئی مغرورانه اودتکبر له مخه وخپلو اسکېر لواوبې وزلو ننداره کوونکوته کاته اوس ئی دخزان له ظلمه مخ زیړاومایوسانه دیوعالم انفعال اوتحسر سره دتیروشو ورځو فکروهی !...

مګر زارع دده ددې مایوسانه اوحسر تنا که کتو په خورامینه اوشفقت استقبال کوی په ډېر ورین تندی وده ته داوعده ور کوی : ـ

آ ـ دعیش اوخوښی مأمنه !

دپسرلی په سر کی چه دهوس اونشاط موقع ده ، زه به د کاره لاس ونه کاږم له آنی لذتو څخه به ستر ګی یتی کم اوپه داسی جدیت به چه ستړیانه لری خپله ملاوتړم ، دطبیعت په ملګری به ستا دتنکیو ګلونو په روزنه لاس پورې کړم .

دزارع کورنی لوی او واړه دچمن اوباغ له زیړمخ څخه نه غمګینه کیږی ، بلکه دوی دچمن په پژمردګی کی خپله امید واری دخپل عمل په نتیجه کښ نږدی اود پسرلی دلمر له وړانګو څخه دوی بیرته خوښ اوخندان وینی .

ددهقان وړو کی ماشومان دخپل پلار دلاس و ګټی ته انتظار کاږی چه را تلونکی ژمی هم خوښ خوشاله په راحت باندې تېرسی .

وه ! څه نیکمرغه اودسعادت څښتنان دی ، هغه کسان چه زحمت ئی ګاللی او ژوندئی په غفلت نه دې تېر کړی ، اودپسرلی له ژوندانه څخه ئی لږ ، لږ توښه وړې اوذخیره ئی ځینی جوړه کړې ده .

افسوس ! دهغو اشخاصو پرحال چه دژوندون پسرلی په لهوولعب تیروی اودژمی یعنی دژوندون دآخر ینو او زوړتیا دروځو فکر ورسره نه وی چه ددې فانی جهان دمسئولیت څه خطرناکه یخنی په مخ کی لری .

نو آ ـ زلمیانو !

دپسرلی ورځی خوږې وې ، مګر هر کله تاسی باید دمستی اوزلمیتوب په وختو کښ دژوندون آخر ینی دسپین زیړتوب دضعیفی روځی په یاد ولری اودمستی په خوب کی له راتلونکو روځو څخه بې خبره مشی !

دپښتو په شاوخوا کښ

دژبی قانون

(٤)

ښاغلی صدیق الله « رشتین »

د تصغیر اسم :

هر کله چه د تصغیر اسم په پښتو کښ زیات صورتونه، او زیاتې علامې لری، او دژبی په تشکیل کښ ئی پوره برخه اخستې ده، نو غواړو چه دا پېره د دې اسم په خواو شا کښ څه نه څه وو ایو :

دیو اسم ورکوټی کولو ته تصغیر وائی. تصغیر په پښتو کښ، د تحقیر، تقلیل، توبیخ، محبت او احترام دپاره راځی. په عربی او فارسی کښ هم البته چه تصغیر د دې اغراضو دپاره راتلی شی؛ مگر د پښتو فضیلت دا دی: چه په پښتو کښ د تصغیر د جوړ ولو دپاره ډېرې علامې موجودې دی. په عربی کښ د تصغیر د جوړو لو صرف یو صورت دی، او هغه دا دی چه د اسم د دویم حرف نه وروسته (ی) راځی او لمړی حرف مضموم او دویم مفتوح کیږی لکه د (رجل) څخه (رجیل) او په فارسی کښ هم د تصغیر علامې محدودې او کمې دی. په دې ځای کښ البته د اسوال کیدی شی چه زیاتی علامی څه فایده لری، او یو مطلب چه په یوه صیغه ادا کیږی نو بل ډول صیغی ته ضرورت څه دی؟ مگر که سړی دژبو په تشکیل کښ غور وکړی نو د دې سوال د کولو ځای بیانه پاتی کیږی. ولی؟ چه علامات، حروف ادات، د ژبی په تشکیل او د لغاتو په جوړ ولو، او دژبی په سرمایه دار کولو کښ زیات تأثیر او پوره دخل لری! څو مره چه یوه ژبه، ډېر علامات، او ډېر ادات لری؛ هغو مره هغه ژبه د زیاتو لغاتو ذخیره پیدا کولی شی، او په آسان صورت د هرشی دپاره لغات او اسما وضع کولی او ایښو دلی شی.

زه د دې مدعا د اثبات د پاره لیری مثالونو ته نه ځم صرف د تصغیر یو څو مثالونه چه ځمونږ د بحث موضوع هم ده؛ را وړم.

د مثال په ډول (کی، ټی، ړی) چه په پښتو کښ د تصغیر علامې دی. د دې اداتو په راوړلو په پښتو کښ مستقل لغتونه جوړ ېدی شی. لکه (کټکی، منگوټی، کند وړی) دا نومونه که څه هم په اصل کښ د تصغیر نومونه دی، او سړی ورته صفتی اسما ویلی شی ولی؟ چه د تصغیر وصف پکښ لیدل کیږی، او په مقابل کښ مکبر اسمونه یعنې: (کټ، منگی، کندو) هم لری مگر اوس دوړو کی کټ، وړو کی منگی، وړو کی کندو، دپاره لکه اعلام گرځید لی دی.

په دې ډول نور هم ډېر مثالونه موجود دی او ښاغلی لوستونکی کولی شی چه په خپله دې مسئلی ته متوجه شی. زه اوس غواړم چه د تصغیر علامې او ادات بیان کړم :

په پښتو کښ اسم تصغیر شپږ اساسی علامې او اصلی ادات لری؛ که څه هم د فروعاتو په لحاظ ډېر یږی مگر هغه په اصلی تعداد کښ نشی حسابېدی؛ چه دا دی په لاندی ترتیب ښوول کیږی.

۱- گی- چه د عامو اسماو په آخر کښ راشی نو د ذات د تصغیر دپاره استعمالیږی، او که د خاصو اسماو یعنی د اشخاصو د نومونو په آخر کښ راشی، نو معنوی تصغیر او تحقیر افاده کوی: لکه:

له ټټو	څخه	ټټوگی
« هندو	«	هندوگی
« خر	«	خرگی
« کوټې	«	کوټه گی
« اسلم	«	اسلم گی
« اختر	«	اخترگی
« پردل	«	پردل گی

۲- گوټی هم لکه د (گی) غوندې هم د معنوی، او هم د ذات د تصغیر او تحقیر دپاره راځی. مگر (گوټی) نسبت و (گی) ته عام دی یعنی د هر قسم اسما و په آخر کښ

راتلی شی. اودمونث دپاره (گوتې) راځی مثالونه ئی دادی:

له طالب څخه	طالب گوتی
« خر «	خر گوتی
« چوکۍ «	چوکۍ گوتې
« تختۍ «	تختۍ گوتې

۳- ملینه (ی): اکثره، داشخاصو دنومونو په آخر کښې راځی، اودتوبیخ دپاره استعمالیږی. لکه:

له اسلم څخه	اسلمی
« اختر څخه	اختری
« پردل «	پردلی

٤- (کی) په صفتی اسماو کښې د صفت او کیفیت دتصغیر دپاره استعمالیږی، اودذات په ځینو اسماو کښې داحترام اومحبت دپاره. مثالونه ئی دادی:

له غټ څخه	غټکی
« تور «	توره کی
« سپین څخه	سپینکی (۱)
« مور څخه	موره کۍ
« خور څخه	خوره کې (۲)
« لور څخه	لورکۍ

نوټ: دځینی اسماو په آخر کښې دتلفظ د آسانتیا دپاره (و) هم راوړلی شی. لکه د(دنډ) څخه ډنډوکی اودپنډ څخه پنډوکی.

٥- (تی، تۍ، تی) داعلامه دهغه اسماو په آخر کښې راځی: چه په آخر کښې ملینه (ی) اویاتأنیثی (ی) لری. مگر (ی) ئې په واو بدلیږی. لکه:

له کوچنی څخه	کوچنوتی
« سړی «	سړوتی
له وړوکی څخه	ورکوتی
« نجلۍ «	نجلوتې
« شکرۍ «	شکروتۍ

٦- (ړی، ړۍ) داعلامې اکثره د ذات دتصغیر دپاره استعمالیږی لکه:

« کندوڅخه	کندوړی
« کدو «	کدوړی
« کوزې «	کوزه ړۍ

نوټ: کله د(ړی) او (تی) دعلامونه مخکښې دتلفظ د آسانتیا دپاره (و) هم راوړلی شی لکه:

له چرگ څخه (چرگوړی اوچرگوتۍ). له انار څخه انار گوړی اوله وز څخه وزگوړی اوله غل څخه غلچکی سماعی تصغیر ونه دی ولی چه نور مثالونه نه لری.

(ك) چه دفارسی دتصغیر علامه ده په ځینو محاورو کښې دپښتو دتصغیر دپاره هم استعمالیږی لکه له ځوی څخه ځویك، له داداڅخه دادك، له تورڅخه تورك، له ماما څخه مامك، له لالا څخه لالك اوداسی نور.

پرته له دې علامو څخه ځینی نورې علامی لکه (وکی، وتی، وړی) چه ځینو ښاغلو مګرو دتصغیر په علامو کښې حساب کړی دی؛ ځما په خیال چه دغه اساسی اواصلی علامې نه دی بلکه لکه دمخه مو چه وویل هم هغه (کی) او(ړی) او (تی) دی چه (و) پکښې په ځینی اسما و کښې دتلفظ دسهولت دپاره زیات شوی دی. حروف علت په پښتو کښې مستقل حروف نه دی بلکه داحروف دحرکاتو داظهار دپاره استعمالیږی، اودتلفظ دسهولت دپاره راوړلی شی نوځکه دغه (و) ته اهمیت نشی ورکولی -

(۱) سپینکی، هم ویلی شی اوله سورڅخه سورکی مستعمل دی (۲) موره که خوره که هم ځینی خلك وائی.

دپښتو خصوصیات

ښاغلي عبدالخالق «اخلاص»

که څه هم هره ژبه تر یوې اندازې پورې ځانته مخصوص ادات او علایم لري مګر داویلی شو چه نسبت اکثرو ژبو ته پښتو بعض خصوصیات زیات لري چه هغه په نورو ژبو کښې ډېر کم ذي دهغې جملې څخه دلته یو څو مثالونه دنمونې په ډول په مختصر اولنډ طور سره لیکل ضرور دي چه مسئله دشکه وتلې اوښه واضح شي :-

(۱) «را» او «در» او «ور» وړو کې وړو کې درې کلمې دي داهره یوه په خپل ځای کښې د فعل مرجع او تخصیص واضح کوي چه ددغو په مقابل په نورو ژبو کښې یوه روغه جمله استعمالیږي اوس که مونږ ددې درې واړو کلمو خو اص یو یو دمثال په ډول دفارسي سره مقایسه کو بده به نه وي. دادرې واړه کلمې په خپله ادا کښې دفعل مرجع (یعنی متکلم ، مخاطب ، غایب ، بې دبل ضمیر اواشارت او تفصیل کو او څخه ښکاره کوي- لکه راغورځول، درغورځول ورغورځول بطرف خود انداختن، بتو انداختن، باوانداختن) اما په فارسي کښې یوازې (انداختن) هیڅ دفعل مرجع نه شي ښکاره کولی تر څو چه (بمن یا بتو یا باو) ورسره ضم نه کړي شي بل لکه په امر حاضر کښې راوړه ، د روړه : وروړه (بمن بیار ، بخود بیر ، باو بیر) دلته هم په ځانله «بیار» او «بیر» سره اصلي مرجع نه واضح کېږي چه تر څو «بمن» او «بتو» او «باو» ورسره یو ځای نشي . همدارنګه راځم درځم ، ورځم چه د (می آیم ، نزد تو می آیم ، نزد او میروم) په مقابل کښې کار کوي . دلته هم که ځانله می آیم یا میروم وویل شي مقصد پوره نه معلومیږي چه څوور سره نو رضمایر وصل نکړي شي، مګر دپښتو دغه دفصاحت ډکې کلیمې دهر فعل په یو ځای کېدلو سره خبره دومره واضح کوي چه نور تفصیل ته هیڅ حاجت نه پاتې کېږي . (راشه) ځانله «نزدمن بیا» معنی ورکوي «ورشه» د «نزداو برو» معنی ورکوي دغسې (راځه ، درځه دي چه داستمرار یعنی نزدمن آمده باش ، بطرف خودت آمده باش ، بطرف اورفته باش) صورت افاده کوي .

دلته یوه بله نکته هم ښودل لازم شو که چېرې د دې درې کلیمو سره (شه) یو ځای شي لکه «راشه» «درشه» «ورشه» نو دمجرد فعل صورت ښکاره کوي او که چېرته «څه» ورسره ملګري شي نو داستمرار صورت پیدا کوي چه مثالونه یې پورته وښودل شوو، بله داچه دغه (را، در، ور) که چېرې دخپلې الحاقي (دویمې کلیمې) څخه جدا شي هر یو بیمعنی پاتې کېږي یا یې معنی په ځنې افعالو کښې معکوسه کېږي لکه د «راتلل» څخه چه «را» جدا شي د «آمدن» په ځای ترې د «رفتن» افاده کېږي او که د «راځه» څخه «را» بیله کو همدغسې معکوسه معنی ښندي همدغسې که د «ور کول» څخه «ور» جدا کو- کول بیاد «کردن» معنی ور کوي نه د «دادن» دلته زمونږ بحث اوږدشو وپرېږم چه له موضوع څخه ونه وزم نو بیرته خپلې خبرې ته را ګرځم

(۲) دتذکیر او تانیث علامې چه په فارسي یا په نورو ځنې ژبو کښې هیڅ معلومې نه دي په پښتو کښې تذکیر او تانیث ډېر ښه معلوم دي حتی چه په ضمایرو اواشاراتو کښې هم دتذکیر اوتانیث فرقونه معلوم دي - مثلاً په فارسي کښې «او گفت» هیڅ نه څر ګندوي چه د گفت فاعل څوك دي نردي که ښځه ؟ په پښتو کښې دمذکر دپاره «هغه وویل» دمونث دپاره «هغې وویل» دغه مسئله واضح کوي یا مثلاً په فارسي کښې «باو بگو» دااشارت هم مخاطب ته دمشارالیه کیفیت دتذکیر اوتانیث له حیثه نشي څر ګندولی - په پښتو کښې «هغه ته ووایه» «هغې ته وایه» معلوم فرقونه دي همدارنګه په ټولو افعالو کښې لکه «راغی» «را غله» (راغلی دی ، راغلې ده) فرقونه معلوم دي چه دمستمع په زړه کښې اشتباه نه پاتې کېږي - په پارسي کښې دهر یوه دپاره «آمد» یا «آمده است» دي چه نه فرق لري نه توضیح.

(۳) «وهل» او «ویشتل» په پښتو کښې هر یو علحده ځایونه او مواقع لري ، وهل په هغه ضرب کښې دي چه په لاس یا په لرګي سره په حاضر او قریب مضروب باندې واقع

کېږی په داسی حال کښ چه مضرب یعنی دوهلو آله دوهونکی له لاسه جدا نه شی - اوویشتل هغه دی چه دلرې څخه په تېزه یا په بل شی یا د توپ او توپك په ذریعی سره واقع شی چه دغه ته عرب رمی وائی اما په فارسی کښ ددې دواړو قسمونو دپاره په غیر دزدن نه بل شی نشته که نا څابی څوك ووائی چه (احمد زده شد) مخاطب ته نه معلومېږی چه احمد په څېره وواهه شو که په توپك وویشت شو تر څو چه شرح ورنکړی شی اما په پښتو کښ فوری چه دمتکلم له خولې وواته «چه احمد وواهه شو» سړی پوهېږی چه په لاس یا لر کی سره وهلی شوی او که وویل شی چه «احمد وویشت شو» دستی یو هېږی چه دلرې څخه په تېزه یا توپك ویشتل شوی دی .

(٤) «وړل» او «بیول» دی چه داهم په علیحده علیحده ځایونو کښ استعمالېږی او هر یو ځانله تعریف او فرق لری که څه هم ددې دواړو افعالو فرق او تعریف ځینی ابتدائی لیکوالو فقط په ذیروح او بیجانو شیونو سره شودلی دی مگر زه ددوی دغه تعریف بیخایه او غلط بولم ځکه چه وړل خاص په هغه شی کښ راځی چه دوړونکی په وجود باندې بارېږی او دده په بدنی قوت سره وړل کېږی نو دغه شی عام له دې څخه که ذیروح وی او که بیجان وی ؛ که لوی وی که وړو کی وی که لږ وی که ډېر وی که دروندوی که سپك وی وړل ورته ویل کېږی - که څوك یو سړی یا هلك د مرض په سبب یا هسی په شا باندی وړی دغه وړل دی اما دغه سړی که یا دلاسه ونیسی او په پښوئې روان کی یا ورته وړل نه ویل کېږی بیول یې بولی- او بیول په هغه شی کښ استعمالېږی چه د بیوونکی په ذریعه او حرکت او توسط سره بې له دې چه دده په بدن باندې بار شی بیول کېږی نو دغه هم که ذیروح وی ، که بیجان وی هر رنگ چه وی بیول ورته وائی موټر او بایسکل که څه هم بیجانه دی خو چه زوریې په مځکه او په خپلو اربو باندې دی په هغو کښ بیول او راوستل استعمالېږی هیڅوك نه شی ویلی چه موټر ویسه یا راوړه وایی :- موټر بوزه یا یې را وله همدارنگه یو مریض یا وړو کی هلك چه پخپلو پښو تللی نه شی یا چرگ یا بل حیوان که څه هم ذیروح اوژوندی دی چه څوك یې په شا یا د گاډی- په ذریعه وړی هغه ته وړل وائی بیول ورته نه ویل کېږی ، مگر په فارسی کښ ددې دواړو (وړل او بیول) دپاره یو «بردن» دی چه ددواړو مفادو بیلابیل توضیح ورباندی هیڅ نه کېږی .

(٥) راوړل اوراوستل دی دادواړه هم دوړل او بیول په رنگه چه پورته یې تفصیل وشو په بیلابیل شیونو کښ استعمالېږی راوړل دوړل په ډول په بار ډونکو شیونو کښ یعنی چه په راوړونکی باندې بارېږی اوراوستل دبیول په رنگه په هغه شیونو کښ چه فقط دراوستونکی په حرکت اوذریعه سره بې له دې چه دده په بدن باندې پېتی شی استعمالېږی او ددغو دواړو مفادو دپاره په فارسی کښ یوازی «آوردن» دی نور هیڅ .

(٦) لیدل او کتل دی چه لیدل په سطحی اوسر سری اوبدیهی لیدلو کښ استعمالېږی مثلاً یو سړی چه په لاری ځی هر څه چه په مخه ورځی او دده ستر گی ورباندی لگېږی او دی یې وینی دغه ته لیدل وائی - او کتل دغور او دقت او تعمق په کتلو کښ استعمالېږی مثلاً یو سړی چه کتاب مطالعه کوی یا په ورك شوی شی پسی گرځی یا یو دوست او اشنا لټوی او کوشش پسی کوی دغه ته کتل وائی- په فارسی کښ ددی دواړو قسمونو دپاره بې له «دیدن» نه بل شی نشته .

(٧) تویول اورژول (یا) توئیدل اورژېدل دی چه تویول او توئیدل په اوبو او هر مایع شی کښ استعمالېږی لکه او به توی که یا غوړی توی شوو، اورژول یا رژېدل په میوه او دونو په پاڼو او په نورو وچو شیونو کښ استعمالېږی لکه ونې پاڼی رژوی یا دوږی څخه دانې ورژوه یا نور دغسی مثالونه یې ډېر دی خوزه دمضمون داوږدوالی څخه ځان ساتم او مختصر عرض کوم چه زمونږ په دې مقاله کښ د پښتو دفصاحت او تصریحاتو یو نمونه (چه دژبی دبلاغت او عذوبت او سلاست علامې دی) شو دل غرض وو او دا په ډېرو دلایلو او شواهدو سره ثبوت ته رسېدلې ده چه دا ژبه لکه چه معلومه ده دهر قسم نثر او نظم ، علمی او ادبی مضامینو استعداد لری او دبلاغت او فصاحت میدان یې له اندازې وتلی ارت او فراخ دی شاعرته پکښ هیڅکله د (ردیف) قافیې او د موزون او مشجع معنی دار حرف او کلیمی تنگسه نه پېښېږی د هر مضمون مرغلری چه یې زړه غواړی په هر بحر او په هر وزن سره یې د پښتو نظم په مزی پیلی شی - ادیب او لیکوال ته پکښ درنگینو او معنورو عبارتونو او دهر ډول فقرو او استعاراتو له خوا اړتیا او احتیاج نه پیدا کېږی د هر بحث په صحنه کښ چه قدم وهل غواړی دقلم آس پکښ په فراخه گامونو سره زغلولی شی همدغه د پښتو دپاخه اساس دلیل دی چه د ډېرو کلونو په بی توجهی او بې اعتنائی سره چه ددې ژبی په حق کښ د تیرو معاصرینو او لیکوالو له خوا واقع شوی دی د دې خپل حیات او متانت هیڅ دلاسه نه دی ورکړی او خپل موجودیت یې د ډېرو تصادماتو په مقابل کښ لکه کلك دفولاد وسنگر ټینگ او محکم ساتلی دی .

دژبی اصلیت

(۲)

ښاغلی محمد اعظم « ایازی »

(۳) علم بیان: علم بیان وهغه علم ته وائی چه وموږ ته دمطلب دادا کولو لاری ددلالت غیر وضعی یه مطابق راښئی:

(٤) علم معانی: علم معانی وهغه علم ته وائی چه وموږ ته دالفاظو استعمال یه جمله کښ ددلالت وضعی او حقیقی معناو یه مطابق راښئی :

(٥) علم بدایع: علم بدایع وهغه علم ته وائی چه وموږ ته د کلام دښیګړی اوښه والی لاری راښئی :

(٦) علم منطق: علم منطق وهغه علم ته وائی چه وموږ ته یه عبارت کښ ددلائلو دراوړلو سمه لاری راښئی :

(۷) علم عروض: علم عروض وهغه علم ته وائی چه وموږ ته راښئی چه یه عبارت کښ یه څه ډول موزونیت او تاثر پیدا کیږی :

(۸) علم موسیقی: علم موسیقی وهغه علم ته وائی چه وموږ ته راښئی چه دژبی اوستونی یه مرسته یو موزون کلام یه داسی لهجه سره ! داسی چه نه یوازی پرغوږو ښه ولګیږی بلکه پرزړو باندی دنشتر یه شان اغیزه وکی:

(۹) دژبی تاریخ: دژبی تاریخ وهغه تاریخ ته وائی چه دژبی دترقی حالات ! اوواقعات یه هغه سره معلومیږی :

(۱۰) علم اللسان : علم اللسان وهغه علم ته وائی چه دژبو دپیدایښت اودهغو دترقی اوبدلېدل او دباهمی تعلقاتو حالات یه معلومیږی :

ددنیا تاریخ اوموجوده تجربی ددې حال شاهد دی چه مورنی ژبه دیوقوم دتهذیب اوتمدن اودعلمی اوادبی ترقیو دپاره یولوی اوضروری سبب دی، دیو قوم لوړوالی اوتیټوالی دهغه قوم دژبی یه لوړوالی اوتیټ والی اړه لری هرڅومری چه یوقوم دتمدن اوتهذیب یه میدان کښ قدم ایږدی ، هغو مری ئی داحتیاجاتو او خیالاتو دائره پراخیږی ، زړې لاری پریږدی اونوی لاری خوښوی دغه رنګه ژبه ئی هم ترقی کوی ، نوی نوی محاوری ، اصطلاحات اوالفاظ یه کښ وضع کیږی ، او هم دغه سبب دی چه ژوندیو اوحساسو قومو خپلو مورنیو ژبو ته فوق العاده ترقی ورکړی دی اودعلمیت اوادبیت لمن ئی پراخه کړې ده، اوبیاهم ورځ یه ورځ ئی یه ترقی کښ زیار کاږی. ولی چه هیڅ قوم بیله خپلی مورنی ژبی دخپل قومیت اصلیت یه اصلی معنی پر دنیا باندی ښکاره کولای نه سی، مورنی ژبه دهر ملت دعلمی اوادبی استعداد معیار ګڼل کیږی اودهر ملت ذهنی لوړتیا او ملی ژوندد هغه ملت دژبی یه ترقی سره اړه لری .

اودیوملت دوحدت ملی دترقیو سبب ګرزی، دژبی تول پوهان اوعالمان قائل دی ، چه ملی ژبه دیوملت دلوړتیا اوترقی اصلی بنیاد دی ، اوهیڅ ملت بیله خپلی مورنی ژبی دترقی واصلی مزله ته لکه چه ښائی رسیدلای نه سی ،اود یوملت ذهنی ترقی دهغه ملت یه ملی ژبه سره اړه لری ، ولی چه انسان فقط دملی ژبی یه واسطه خپل ذهنی خیالات او نفسانی جزبات یه ښه ډول سره پرنورو باندی ښکاره کولای سی ، اوخپله علمی ذخیره زیاتولای سی ، نوهر څو مری چه دیو ملت ژبه پراخه اودهر ډول علمی اوادبی مطالبو او مباحثو دادا کولو دپاره قابله اوکامله وی هغومری ویونکی ئی یه متمدنه دنیا کښ پوهان اومهذب ګڼل کیږی ، که یو ملت غواړی چه دخپل وطن داولاد ذهنی اوعلمی قوا ووته یه ښه ډول وده ورکړی ، اوزړونه ئی یه ملی حسیاتو متاثر کی ، نود دی پاك مقصد د حاصلولو دپاره ، چه یه حقیقت کښ د یوملت دژوندون دپاره یو ژوندی روح دی بیله ملی ژبی یه بل هیڅ ډول لکه چه ښائی امکان نه لری ، ملی ژبه ده چه دیوملت شئونات دلمر یه شان وتو له دنیاته خرګنده وی ، لنډه دا چه ملی ژبه دهر ملت دمادی، معنوی اوعرفانی ارتقا معیار ګڼل کیږی،

که موږ دهغو قومو پرتاریخ باندی ، چه دترقی اوتمدن مزلونه ئی تریوه حده پوری لنډ کړی دی ، دغوره نظر واچوو ، ښه به راته څرګنده شی ، چه اصلی سبب ئی هم دغه خپله ملی ژبه ده ؛

پښتو چه زموږ خوږه مورنی ژبه ده اود پښتنو لوړ تیا هم په دې سره اړه لری ، که هم دغه رنګه دبیغوری په حالت کښ پاته سوې وای ، لکه چه تراو سه پاته وه ، ضرورو چه زموږ ملی مزایا وی به ورو ورو ورکی سوی وای ، اود نننی ورځی دتمدنه څخه به ډېر ورسته پاته سوی وای ، لیکن دڅښتن تعالی ډېر شکر دی . چه زموږ ګران اوخواخوږی پاچا اعلیحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه (خلدالله ملکه) خپله شاهانه توجه دملی ژبی دژوندون اوترقی وخواته راو ګرزوله اوددې دترقی دپاره ئې لازمه وسایل راغونډ کړه چه زموږ ملی ژبه هم دعلمی او ادبی حیثیت خاونده سی ، اودافغان غیرتمن قوم ددې په واسطه وهغو ترقیوته ورسیږی لکه چه نورقومونه دخپلی ملی ژبی په واسطه رسېدلی دی ، پښتو که څه هم اوس دادبیت اوعلمیت په لحاظ سره ترنورو ژوندیو ژبو څخه وروسته پاته ده ، لیکن په حقیقت کښ یوه قدیمه اوپراخه ژبه ده ، او هر ډول علمی اوادبی استعداد پکښ ډېر دی ، که پښتانه ددې وخواته دزړه دمینی مخ راو ګرزوی اوپریوه سمه لارئې بوزی ؛

داهم ظاهره خبره ده چه هره ژبه دمطلب دظاهره ولو دپاره دوې محاورې لری ، یوه عامه اوبله خاصه محاوره ؛

عامه محاوره وهغی محاورې ته وائی چه عام خلق په هغی سره خبری کوی ، او دخپل زړه خیالات یو وبل ته ښکاره کوی ، دژبی په اصطلاح کښ ودې محاوری ته (بازاری) محاوره هم وائی څرنګه چه دامحاوره دژبی دادبیاتو تر اثر لاندی راغلې نه وی ، نودادبیت اوفصاحت په لحاظ دیوملت علمی ، ادبی ، تحریری او رسمی ژبه ګرزیدلای نه سی ، ترڅو چه دادبیت جامه وانه غوندی او علمی او تحریری حیثیت پیدانه کی ، اودعلمی محاورې په قطار کښ نه شمیر له کېږی او نه دیو ملت رسمی ژبه ګرزېدلای سی ؛

خاصه محاوره وهغی محاورې ته وائی چه دژبی دادبیاتو تراثر لاندی راغلې وی ، اودعلمی اوادبی استعداد خاونده وی ، او هم دغه محاوره دیو ملت رسمی او تحریری ژبه ګرزېدلای سی ، که څه هم روزمره یا عامه محاوره دعلمی اورسمی محاوری ماخذ دی ، لیکن عامه محاوره دادبیت په لحاظ درسمی محاورې څخه بیله وی ، ترمیم غواړی او بیله ادبی اصلاحاتو دیوملت رسمی اوتحریری ژبه ګرزېدلای نه سی که موږ دژبو تاریخ اودترقی وسایل ئی دژبی په تاریخ کښ ولټوو ، ښه به راته ښکاره سی چه هری ملی ژبی دروزمره محاورې څخه ترقی کړې ده ، او آخر ئې علمی او ادبی جامه اغوستې ده اودملت رسمی او تحریری ژبه ګرزېدلی ده ددې حقیقت څخه هغه پوهان چه دژبو دتاریخ څخه باخبره دی ، هیڅکله انکار کولای نه سی ، اودایو تاریخی حقیقت دی ، چه موږ ئې باید دبیغوری اوغفلت په نظر سره ونه ګورو ، داسی ونه سی چه دترقی اصلی او ضروری وسایل ئې پرېږدو اوپه فروعاتو ئې بخت سو ، په دی لار کښ باید قدمونه ټینګ اوپه احتیاط سره ایږدو ، دژبی ځنی ضروری مواد ، چه دهغو زده کړه ډېره ضروری ده ، دادی ، (۱) دلالت اودهغه اقسام ؛ هغه آوازونه چه دزړه دخیالاتو دظاهرولو دپاره استعمالیږی ، الفاظ ورته وائی ، اوهر لفظ دیو خاص معنی دپاره وضع سوی وی ، چه عموماً په ژبی کښ په هغه معنی استعمالیږی نودیوه شی (لفظ) په واسطه دبل شی معنی (نخښه) معلومولو ته دلالت وائی ، مثلاً (ونه) چه دیو خاص نبات نوم دی ، په دغه معنی په ژبه کښ استعمالیږی ، یا داحمد دلفظ داوریدو څخه دهغه سړی تصور په زړه کښ راځی چه نوم ئې احمد دی ، نوداحمد لفظ دلالت کوی دیوه سړی پرنامه باندی وداسی دلالت ته دلالت لفظی وائی ، عامه قاعده خو داده چه کوم لفظ چه دکومی معنی دپاره وضع سوی وی ، عموماً دهغی معنی دپاره استعمالیږی ، مثلاً مکتب وهغه ځای ته وائی چه هلکان سبق په کښ وائی . دالفاظو داسی استعمال ته حقیقت وائی ، هر کله چه الفاظ پر خپلو وضعی او حقیقی معناو استعمال سی ، چه بعینه پرهغو شیانو باندی دلالت کوی ، چه دهغو دپاره وضع سوی وی ، حقیقت لغوی او دلالت ته ئې دلالت وضعی وائی ، دځنو معناو دظاهرولو دپاره تریوه زیات الفاظ په ژبه کښ وی ، چه هغو ته مترادف الفاظ وائی ، دځنو الفاظو ډېری معناوی وی چه هغو ته مشترك الفاظ وائی ، داټول حقیقت دی اوپه دلالت وضعی کښ داخل دی ؛

(نوربیا)

تاریخی برخه :

شفاهی ادبیات

(٦)

ښاغلی احمد علی « کهزاد »

دریگ وید دسرودو دانشا ځای :

د (ویدی) سرودو په مبحث کی دقدیمو مجهولو سرودو اودریگ وید دمعلومو سرودو تر عنوان لا ندی په عام طوز سره دسرودو موضوع تر یوڅه اندازې تحلیل شوه ، اوداوویل شوه چه سرودونه پر دوه نوع دی ، یو هغه چه هغه زموږ ولاس ته راغلی اومعلوم سرودونه ورته ویلای شو ، اوبله حصه څنگه چه پخپله دریگ وید متن شاهد دی په قدیمو زمانو کی ئې وجود درلود ، خو بیا له منځه تللی دی .

داطبیعی ده چه آریائی ډېر پخوانی سرودونه په هغه ډېره پخوانی مځکه کی وه چه آریانان اوسېدل .

پدې کی خوشك نسته چه دا کسوس حوضه یعنی (باختر) دهنداوایران د آریائی و ، دژوندون مشترك کانون دی ، نو پدې کی هم هیڅ شك نسته چه آریانا و خپل لمړی سرودو په هم دغه ځای کی ویلی وی دامفکوره چه آریانا و دهندوکوه په شمال کی قطعاً سرود نه درلود اونه ئې ویلی دی ، زما په گمان بې حقیقته معلومیږی اودموجوده سرودونص دپورته مفکورې تکذیب ثابتوی .

لکه چه د (ریگ وید) ډېری پخوانی منظومی پارچې دقدیمو علماًاو شعراً او سرودو خبری کوی . هو - پدې کی شك نسته چه هغه سرودونه چه دهندوکوه په شمال کی ویلی شوی وه ، بالکل له منځه تللی دی اوڅه لږ اثر ئې هم اوس پلاس کی نسته . مگر دامسئله ددې دلیل نشی کیدلای چه دمخه تر هغه چه آریائی دهندوکوه وجنوب ته نه وه کښته شوی نو سرودونه هیڅ نه وه .

علا وه پردې دسرودو انشا خو د آریائی دطبیعی دیانت جزوباله کیده ، او آریائی دهندوکوه په شمال کی اصلاً هم پدې عقیده سره متصف وه . نو حتمی ده چه سرودو نه ئې هم درلوده ، چه موږ دمجهو لو سرودو په نامه یاد کړه .

تر هغه وروسته چه د ۲۰۰۰ ق م په شاوخوا کی مهاجرت شروع شو اود آریائی له قبیلو څخه یوه لوډله دهندوکوه وجنوب ته اودجنوبی اوشرقی افغانستان دشنو درو وښې آب وهوا اوسرسبزو شپلوته خپره شوه ، پخپله دریگ وید په اصطلاح دسرودو انشا دقدیمو شعراؤ پر اصول او رویه باندی ئې سم ادبی روح مو ندلی دی او شاعران یالکه آریائیو چه بهویله (ریشی ها) پدې فکر کی شوه چه دخپلو سلفو پرقدموسم لاړشی ادبی ذوق اودسرودو ویل تازه کی . په نتیجه کی هغه کورنی چه شعر ویل ئې دنیکه گانو میراث و ، ودې کارته ئې لاس ورته کی ، ذوق تجدید شو اودخبرو بازار بیاتودشو ، نوله دی جهته ویلای شو چه د آریائی دشعرویلو ادبی روح د کوبها په دروکی اوپه شرقی آریانانو کی تجدد موندلی دی ، چه دځینو قبیلو دمهاجرت په وخت کی وپنجاب ته لاهم دا ادبی روح و ، نوله دې سببه دسرودو دانشا دځای نسبت وهغو مځکو ته کیږی چه د کاپیسا څخه بیا تر پنجابه غوړېدلی دی .

اودشرقی افغانستان درودخانو دنومو تذکار کوبها (کابل) گومائی (گومل) کرومو (کرم) سوا ستو (سوات) اویوڅه مختلف قبائل لکه پکتها (پښتانه) بهالانا (دبولان ددرې اوسېدونکی) شیواها (دشیوه کی اهالی) یا (داندوس سواحل) النیاها « نورستانی » گندا ریس (گندهاری) « د کابل ددری اوسېدونکی تر پښوره پوری » موجوددی . دمخوان « منجان » دغره ژدې اوسېدونکی اونوری قبیلې په فصیح ژبه بیان کوی چه د کاپیسا او داندوس « سند » دمنځ منطقه هغه مځکه ده چه دسرودو ادبی تطور په هم دغه ځای کی واقع شوی دی ، یعنی مجهول سرودو نه دباختر په کانون کی ویلی شوی وه اوله هغه ځایه بیا په نوی طرز اوشکل اوتطور ددې قطعې داوسېدونکو شعراؤ له قریحې څخه ویلی شوی .

داهم باید وویل شی چه دریگ وید دسرودودانشا ځای په تماکلو کی موږ داعتدال لارنیولې ده ، او که دنومو ، ځایو اوقومو تذکار سندوباله سی ، نو ویلای شو چه دمعلومو سرودود ترکیب ځای شرقی ، جنوبی اوغربی آریانا په غېږ کی نبسی ، ځکه دځینو په عقیده (سر او رستی) (هر اوییتی اوستا) چه عبارت له اوسنی ار غنداب څخه وی او د (پاراواتا) قبیله چه عبارت له هغی قبیلی څخه دی چه عیناً په دغه نامه ئې بکلیموس دارا کوزی په شمال کی یاد وی .

بیله دې چه دبلهیکا (بلخ) په موضوع کی چه (عتروید) کی ذکر شوی دی داخل شو ، نو دنتیجی په توگه هغه چه (اولند پرك) وائی اوفرانسوی (واله دوپوس) ئې تکرار وی اوپه دې مبحث کی زموږ دنگار شاتو عین خلص وی په دې ځای کی راوړو ؟ -

« . . . آریائی دریگ وید په عصر کی دشرقی افغانستان دشمال غربی په پای کی اوسېدل چه هلته دریگ وید دسرودوترکیب ډېر قرنونه تېر کړی اونیولی دی » (انتها)

میکروکسمس

یا

عالم اصغر

(۲)

له المقتطف څخه

دښاغلي «هاشمي» ترجمه

هر کله چه دنفس بحث یو نظری بحث دی اوددې بحث مدار صرف هغه قوه اواستدلال دی چه هغه دحواسو په واسطه حاصلیدلی شي؛ لکه چه داخبره موږ وړاندی هم ذکر کړیده. او دجسد بحث یو عملی بحث دی چه دهیولانی عناصرو د کیمیاوی تحلیل په صورت دهغی څخه جسد جوړشوی اوداسی تکوین ئی موندلی دی چه هیڅ قسم مغالطه اواشتباه اومشاجره نه قبله وی؛ له دی امله دانگریزی پوهانو څخه یو عالم دانسان وجود په کیمیاوی صورت په ډیر دقت سره تحلیل کړ، او په خپله یوه مقاله کښې ئی ددې خپل تحلیل ډیر توصیف وکړاودهغی مقالی په خاتمه کښې ئی هغه نتیجه چه دی په خپل تحلیل کښې هغی ته رسیدلی واودانسان په جسد کښې ئی دنفس په خصوص کښې ذکر اوبیان کړی و ما په دغه بیان تعجب وکړ چه ماخنگه داروپا په دینی جوامعو کښې د فلسفی علومو تدریس وکړاو دروح اومادی په خواوشا کښې می ډیری مقالی ولیکلی لیکن په دی بحث کښې دهغه نقطه نظره څخه چه دی انگلیسی عالم هغی ته نظر کړی دی ماورته په هغه نظر ندی کتلی.

ددې بحث عظمت او اهمیت پټ شی نه دی، ځکه چه هر څوك فطرتاً دی خبری سره ډیره مینه لری چه کوم شیان چه له ده په خواوشا او گیرچاپیره دی په هغه دی خپل علم زاولی او ځان پری پوه کړی، اوداخبره دومره عامه ده چه کچینی اطفال هم داشوق لری چه هغوی هر شی خپل ځان ته معلوم کړی.

دامشهور متل دی چه څوك په څه نه پوهیږی هغه دهغه شی دښمن دی، داعجبه خبره ده! کومو شیانو چه په موږ احاطه کړیده دهغوی پیژندل اومعرفت به موږ ته څه گټه ورسوی؟ په داسی حال کښې چه موږ دخپل هغه جسد په حال چه موږ په هغی ژوندون کوو علم نه لرو؛ او په دی نه پوهیږو چه ځموږ په وجود کښې هر څه شته دی، لیکن ځموږ په وجود کښې به یو داراز شی هم وی چه هغه ځموږ دوجود څخه ممتاز وی اودوجود په فنا کیدو به هغه نه ځوه کیږی؟

په کوم وخت کښې چه دغه پیاوړی پوه انگلیس مقاله دی دپاره لنډوله چه هغه څوك چه دخپل ځان سره په یو داسی ملصق شی یعنی دخپل جسد په حال چه په هغه ژوندون کوی لیکن هغه شی دجسد په مرگ نه لری اهمیت ورکوی او شوق لری چه دهغه څخه استفاده وکړی، اودی راز خاطر اتو به ځما زړه مشغولاوه.

ددې انگلیسی عالم دمقالی خلاصه او لنډه مطلب دادی چه:

دفیزیولوجی دعالم داخبره چه: انسان عبارت دی دهغی لوی اوغټی هگی څخه چه په دغه هگی کښې نفس اوحیات دواړه پوك ویلی شوی دی؛ اودی پدی خپله رای او نظریه کښې نه دی تیروتی: ځکه چه دیوداسی انسان دتکوین دپاره چه دده وجود «۱۵۰» رطله وزن لری یوزر اودوه سوه داسی هگی په کار دی چه په هغی کښې متنوع عناصر موجود وی او دغه مقدار هگی دده دوجود دتکوین دپاره کفایت کوی: دانسان وجود د خور لسو مختلفو عناصرو څخه جوړ شوی دی چه پنځه عناصر دهغه عناصرو څخه چه عبارت د: اکسیجن، هایډروجن، آزوت، کلور(۱)، فلور(۲)، وغیره څخه دی، او کوم مقدار چه ددې غازونو څخه دانسان په وجود کښې موجود وی دهغه اندازه «۱۵۰» رطله ده اودامقدار دیوداسی حوض

«۱» کلور: یوغاز لرونکی عنصر دی چه زیړ اوشین والی ته مایل رنگ دی اوسخت بوی لری.

«۲» فلور: یو بی رنگه غازلرونکی عنصر دی اود کیمیاوی اوفعل دعواملو څخه دی.

دد کوالی دپاره کفایت کوی چه‌هغه حوض «۱۶۰» متره مکعب وی، اوددې غازونو څخه «۹» نور عناصر جامد دی چه‌هغه عبارت د کربون ، کلسیوم، جیر، فوسفور، وسینه، کبریت ، سودیوم ، پوتاسیوم ، مسیلسیوم ، مگنتزیوم ، څخه دی ، اوداجامد عناصر دځمکی په تولو خاورو کښې موجود دی ، او نور عناصر هم لکه مس ، سرب ، الومنیوم مخنیزیا ، زیبق او زرنیخ ، وغیره چه دځینی عواملو په اثر دانسان په ستر گی کښې پریوځی دډیرو اشخاصو په وجود کښې موندل کیږی .

دتولو عناصرو څخه ډیرمهم عنصر چه دهغه «۱۵۰» رطله وزن دانسان دجسد دتکوین دپاره کفایت کوی : عبارت د : مضغوط اکسیجن : یعنی ځیښل شوی اکسیجن څخه دی چه ددغه عنصر دروندوالی اوثقل «۱۶۰» رطلوته رسیږی ، که ددې مقدار اکسیجن څخه خپل فشار بیرته‌شی اوپه خپل طبیعی حجم او حالت ودریږی . نوددې عنصر حجم به دانسان د وجود د حجم څخه ډیر واره اوخوچنده زیات‌شی ؛ لیکن دهیدروجن مقدار چه په تولوغازونو کښې‌ډیر سپك غازدی، ددې عنصر حجم په یو انسان کښې چه‌دهغه وزن(۱۵۰) رطله وی یوسلولس مترو مکعبوته رسیږی‌یعنی‌دیوی‌داسی‌خونی‌سره‌برابر اومساوی کیږی‌چه‌دهغی ارتفاع‌اوجگ والی دری‌نیم اودهغی سطحه ۳۰ متره وی ، اوددې مقدارهیدروجن دروندوالی اوثقل دیارلس نیم رطلوڅخه نه کمیږی ، اودغه مقدار دیوداسی بالون دد کوالی دپاره کفایت کوی چه هغه بالون ۱۱۰ مکعب مترونه وسعت لری اوپه فضا کښې دومره جگ او پورته‌الوتل کولی‌شی چه‌دجگوغرونودڅوکوڅخه‌واوړی .

آزوت هم دانسان په‌وجود کښې دهررطل په‌تناسب (۱۵) گرامه چه‌تقریبا څلورنیم رطله کیږی ور داخلیږی اودآزوت ددې مقدارحجم دانسان دوجود شل‌څله‌زیات حجم ته رسیږی .

لیکن کوم ځای‌چه آزوت‌دانسان‌په‌وجود کښې ځای‌نیسی اواشغاله‌وی هغه‌ځای دیوڅو سانتی متروڅخه زیات نه‌وی اوددې‌شی په‌واسطه دانسان ددماغ اوعضلاتو جریان او قیام ساتل کیږی :

دانسان په‌وجود کښې دیوی اندازی کاربون هم شته دی چه دغه مقدار په شلنیم رطلوتخمین شوی دی اودا مقدار کاربون د(۷۸۰) پنسلونو دجوړولو او سر کولو دپاره کفایت کولی‌شی :

اوداعنصر دانسان په‌وجود کښې داوروپه ځای کار ورکوی اودانسان په‌وجود کښې قوت‌اوحرکت پیدا کوی لیکن داتول عناصر چه موږپورته ذکر اوبیان کړل دغه تول‌عناصر دحیوانی نشاط‌مصدراودهغه حرارت اوحرکت قوام راولی چه دانسان په وجود کښې د بصارت او نظر ته‌په ستر گو کښې او دهاضمی‌قوة ته‌په‌معده کښې اودتنفس او سا اخیستلو قوة‌ته په پرپوس کښې اودلمس قوة‌ته په خوله‌اولاسونو وغیره‌و کښې‌تبدیلیږی اوتحویل‌مینده کوی.

سره ددې چه‌دهغه انسان په‌وجود کښې ددې تولو عناصروڅخه ده ٤رطلو څخه د١٤٦ رطلو پوری عناصر فرض اوتخمین شوی‌دی چه‌دهغه ثقل‌اووزن (۱۵۰)رطله فرض او تخمین شوی وی ، انسان په خپل ژوندون کښې ددغه پورته نورو ذکرشوو عناصرو څخه هم نشی مستغنی کیدلی مثلا که دانسان په‌وجود کښې ۲ رطله کلسیوم او یونیم رطله فوسفورنه وی ، نوپه‌دی صورت کښې دانسان لیچی اوپنډی اوسراوغاښونه دخپله کاره لویږی اودغه اعضاء خپل وظائیف په‌صحیح صورت سره نشی ادا کولی اودی ورو ورو ددی اندازی پوری معذور او مجبور شی چه‌باید دی لکه دنورو ځینو حیواناتو په‌سینه نسکورځان شوه یه‌وی اوخاوری‌ئی خوراك وی ، دتولو خبرو څخه ډیره عجیبه خبره داده چه‌دغه‌لږ مقدارفوسفور چه‌دانسان په وجود کښې موجوددی دغه عنصریوداسی قاتل زهردی چه‌ددغه زهرودغه‌لږ مقدار دیو کلی دویجاړولو اودهغی دخلقو دوژلو دپاره کفایت کوی ، اوهم ددغه لږمقدار څخه اته‌زره اوڅلورشپیته دورلگیت قطی چه‌په‌هره قطی کښې ٦٠ ـ دانی دورلگیت وی هم جوړیدلی شی اودغه مقدار ددومره دورلگیت دقطی دپا ره کفایت کوی ؛ لیکن دنورو عناصرو مقدارچه‌دانسان په جسم کښې موجود وی ، هغه عبارت دی د(۱۲۰) گرامو کلور او (۹۰) گرامو سودیوم او(۷۵) گرامو کبریت او(٦٠) گرامو فلور او (۳۰) گرامو پوتاسیوم او یوگرام مگنیزسیوم اولسو گرامو سیلیسیو م څخه لیکن دامقادیر داشخاصو داختلاف په اثرمختلف کیږی‌یعنی دتولوانسانانو په‌وجودونو کښې په‌یوه‌اندازه‌نه‌وی بلکه دهرچا دوجود دثقل‌اومقدار په اندازه په‌دی‌مقادیرو کښې‌هم اختلاف راځی ؛ اوپه‌دی مقادیرو کښې دیوانسان په‌وجود کښې دزمانی داختلاف اوتبدیل په اثرهم اختلاف اوتبدیل راځی : (نور بیا)

له هری خولی

(۱۸)

د گو درهر بوتی دار ودی چه پرې لگیږی دنجنگیو پلونه

هر برگ بته های گودر (جائیکه زنها آب می گیر ند) دوای درد است زیرا گوشه های چادر دختر های جوان به آنها می خورد .

(۱۹)

دطوطی هسی خو لگی سره ده دباغ گلونه ټول بورا خوړلی دینه

منقار طوطی بیهوده سرخ است گلهای باغ همه را پروانه ها خورده اند .

(۲۰)

دا بیغلتوب می د غم دود کړی خیالی ځوانان راپسی مری خونکاره شومه

بسوزد این حسن جوانی واین دوشیزه گی من دود غم شود جوانان زیبا در آرزوی من جان می دهند مرا خونکار ساخت .

(۲۱)

قبر سوری کړه حال می گوره په خماری ستر گومی پریوتل گردونه

قبرمرا بشگاف وحال مرا ببین. بروی چشم‌های خماری من گرد مرگ افتیده است .

(۲۲)

ماداسمان سپینه سپوږ می کړی چه دجانان په کیږدی تل ولاړه یمه

مرا ماه اسمان بسازید که همواره برغزدی محبوب خویش پرتو افشانی کنم .

(۲۳)

تن می دشنې نگر یخی یا نه ظاهر تازه دننه رنگ په وینو یمه

تن من مانند برگ سبز حنا است . ظاهر آن تازه ولی در باطن به خون رنگین هستم .

(۲٤)

پاس بنگله کښې پریاد خیژی یارنخوران دی یامین له ملکه ځینه

درین آبادی صداهای ناله وفریاد بلند می‌شود ؛ یارنجوران هستند یاآنکه کدام عاشق به سفر میرود .

(۲۵)

که دشودو لښتی پرې سم کړم خزان وهلی باغ می نه نیسی گلوه

اگرآنرا به جویهای شیر آبیاری کنم. در باغ خزان دیدهٔ من گل نخواهد شگفت .

(نور بیا)

ژولی

(۲)

لیکونکی-روسو دفرانسوی نومیبالی لیکوال

مترجم - ښاغلی «خوږ من»

اوس ورو ، ورو په غلطۍ دخپلو خرخښو اواندېښنو پوهېدلې اوهغه دفضیحت بارچه زه ئې دوحشت په سیند کی ډوبه کړې وم زماداوږو څخه پورته سوی دی ،اضطراب اوغور ځنګ دزړه می لږ سوی دی ، ځان عاشق اومعشوق اوپه عین حال کی سپین لمنې اوسپېڅلې وینم ! داخوشبختی اوسعادت ما په ژوند کښ خوشحا له کوی ، دمینی او عفت دیو ځای والی څخه ډېره خوښېږم اوځان په یوه داسی عالم کی وینم چه باید موعود جنت ئې وبولم نوله دې له امله صحت می خورا ښه سوی دی . . . خوسره له دې چه وحشت او بېره می ور که سوې اوستاسی په پاکی می اعتماد درلود بیامی هم لیری والی اواجتناب لازم ګاڼ ځکه چه زما کتنه ستاسی سره ستاسی دبد حالی باعث ګرزېده ، ستاسی عاجزانه دستر ګو اړول او اوسېلی مودعقل دور کېدو اومغلوبیت شهادت ور کاوه !

کشکی ما کولای سوای چه خپل دخوشبختی ، طراوت اوهوسا ګلوی احساسات ستاسی په روح کی هم درپیدا کم اوهغه خورا خواږه شیان دژوند وتاسی ته درښکاره کم ځکه لکه هتاسپ شاعر چه وائی

«لذت دنجابت سره تړلی دی» .

اې یوازنی ملګرې زما ! تاسی ته قسم درکوم چه هغه خوشی هوسونه اومستی دځانه څخه لیری کی او یوداسی رفتار راواخلی چه په هغه سره دوخته څخه استفاده اودیو دبله څخه ګټه واخلو . زه په تحصیل او لوستلو پرتا باندی راضی او ته زما په تعلیم اوښوولو خوښ ئی . ښائی چه پخپله دوستی اومحبت کښ باثباته اوسو ، په هغو وختو کی چه یو دبله نسوای سره لیدای مکاتبه وکو ، ودی سی چه یوه روځ به پردې وخت تاسف وکو ! اوف . . . آیادا امکان لری چه اوسنی نړی-زموږ دژوند په ټوله دوره کی پریوه حال پاته سی ؟ روح مزین سوی ، فکر روښانه ، دماغ لوړاو زړه خوږ اوپوړ هه وګرزېدلی دی - نور نو زموږ سعادت څه نقص اوګار لری ؟

دسن پرولیك وژولۍ ته

زما ژولۍ ، په رشتیا سره ته حق لرې چه مادځان په پېژندو کی بشپړونه بولی ، ماتل داسی خیال کاوه چه ستا دروح پرټولو ښکلو خزانو باندی می لاس بردی ، خواوس داسی یوه ورځ نه تیریږی چه زه یوه نوې خزانه نه مومم اوپخپله خطا باندی نه پېېږم !

آیاچیری به داسی ښځه وی چه لکه ته مینه اوسپېڅلتیا یعنی عشق اوعفت سره ګډ اودهغو دګډون څخه یونوی ښایست اوجمال ومنځ ته راوباسی ؟

زه هیڅ نه پېېږم چه ستادپوهنی اوعقل قوه څه سحر لری چه خپل بېلتون دی پرما دومره خوږ کړی او وماته دی دهغه د ګلولو طاقت را کړی دی :

زه هره ورځ تردمخه لا ښه پېېږم چه ستا ترمینی او دوستۍ بل لوړ مقام نسته اوپردې هم معتقدیم چه ستا دزړه تصاحب ستادجسم اوبشر ترتملك په مراتبو لوړاو ګران دی خوزما ګرانی ژولۍ ! داجزر اومداودالوړ اوځوړ د کمی خوادی ؟ داسی دوه شیان چه طبیعت یو ځای اوغبر ګولی پیدا کړی دی ، ته ئې ولی سره بېلوی ، دیوې خواڅخه وائی چه باید وخت غنیمت وبولو اودهر ګړی څخه په ښه توګه ګټه واخلو اودبلی خواڅخه وائی چه موږ لره نه ښائی چه خپل سعادت تریخ اووخت مو په بې حوصله ګی سره تېر کو ، ګرانی-! ولی ئې هم پرمیخ اوهم پرنال په یوه واروهی ، آیادا ښائی چه موږ دیوه سعادت دلاس راوړو له امله یو بل سعادت دلاسه وباسو که موږ داسی وکو آیاخپل وخت بی فایده اووړیا دلاسه نه ورکوو ؟ (نوربیا)

دکابل افسانه

د باد طوفان

(۲)

دماری لیمب په‌قلم :-

میراندا :- زما گرانهٔ بابکو ! دغه‌دغم او خواشینی په‌وخت کی به‌زه‌خونی ستادزحمت باعث گرزیدلی یم ؟

پیراس پیرو :- یه‌خیر ؛ زما دستر گو توره ! بلکه یوازی ستاوجودو ، چ‌زه ئی‌ساتلی یم . اوستا معصومانه خنداو موسکی‌ماته‌جرئت‌را کاوه‌چه‌دتولو بدبختیو په‌مقابل کی مقاومت اوتینگار غوره کړم .

زموږ خورا که ترهغه وخته چه‌ودې بیابانی جزیرې ته‌رارسیدو د کفایت په‌قدربس شوه . تردغه‌وروسته نو ، ای‌میراندا ! زما دخوښی لوی‌باعث ستاتعلیم و، چه‌مادر کاوه‌او یقین می دی چه زما له تعلیمه به دی ښه استفاده کړې وی .

میراندا :- گرانه‌پلاره! خدای‌دی‌له‌تاخخه‌خوښ‌سی! اوس نوهیله‌لرم چه‌ددې‌طوفان دجوړولوعلت‌راته‌بیان کړې

پیراس پیرو :-پوه سه ! چه‌ددې طوفان په واسطه زما دښمنان (نایلز) پاچااو مستبد ورورمی ددې جزیری پرساحل غورځول کېږی . . .

که‌خه‌هم میراندا به‌همیشه‌ارواحان په‌ستر گونه لیدل مگردپراس پیرو په دې‌وخت کی‌داهم نه‌وه خوښه چه‌دده لورله خالی‌هواخخه دده محاوره له‌ارواحانو سره واروی (لکه‌پخواچه‌به‌ئی‌اروېدل) نوځکه ئی‌میراندادسحر په‌لرگی په‌خورا آهسته‌گی سره ووهله . او داپه یوه درانه خوب ویده‌شوه ، ښکلی آرئیل‌دخپل‌بادار (پراس پیرو) حضورته راغی چه‌د کښتی‌اود کښتی دسپرو را کښته کېدلواحوال ورته ووائی .

پیراس پیرو و آرئیل ته‌خطاب و کی :-

ښه ، ای‌ښکلی‌جسمه !

آ- زړه ورونکی آرئیله !

تاخپله وظیفه‌پرخه تو گه وپای‌ته ورسوله ؟

آرئیل دطوفان او دمانو گانو ددهشت او اریانتیا په‌باره کی‌او ودریاب ته‌دلمړی سړی دغورځولو چه دپاچا

مترجم :- ښاغلی غلام علی « بریالی »

زوی‌و اودباچا دچورت په‌شاوخوا کښ چه‌د گران زوی ددوبیدو په‌وخت کی‌ورپیښ شوی‌و ، مفصل‌بیان ورته‌و کی-

اوضمناً ئی‌ورته عرض کړه‌چه (فردیناند) دپاچازوی نجات موندلی اوس دیوې‌جزیرې په‌غاړه لاس‌تړلی ناست دی ، اودخپل پلارپر تلفیدوچه هغه‌ئی ډوب‌بللی‌په خورا حسرت اوویرپه‌رټ‌رټ‌ژاړی .

زه‌وتاته ډاډدر کوم چه شهزاده روغ‌رمی دی اویو وېنته‌ئی هم نه‌دی‌بې‌ځایه شوی - که‌خه‌هم سرترپایه لوند شوی دی مگر ترپخوا لاښه نوی اوتازه ښکاری .

پراس پیرو :- ای‌هوښیار اوښکلی آرئیله !

شهزاده دلته راوله، زمالورباید دی ووینی -

پاچا او ورورمی چیری‌دی ؟

آرئیل‌په‌ډېرادب‌سره‌وویل :-هغوی دفردیناندپه‌پلټنه اخته دی ، اوپسی گرځی - تقریباً اوس ئی‌له‌پیدا کولو خخه هم مأیوس شوی دی ، ماهلته پری ایښی دی -

د کښتی دعملې خخه‌یوسړی لاهم‌نه‌دی ورك ،مگر یوله‌بله داسی ناخبره‌دی چه‌هریو داخیال کوی‌چه‌یوازی مانجات موندلی دی .

سره‌ددې چه کښتی هیڅ‌نه‌لیدله کېږی‌خو بیاهم‌په‌بندر کی‌روغه رمی‌ولاړه‌ده .

پراس پیر و :- آرئیله ! تا خپله وظیفه په صداقت وپای‌ته رسولې‌ده، مگراوس لاهم‌ډېر کارونه‌وتاته گوری چه‌باید اجرائی کړې .

آرئیل دعرض‌په طور :- آیانور کارلاهم‌سته ؟

اجازه را که،ای‌باداره!چه‌تاته‌ستاهغه‌وعدې‌درپه‌یاد کم چه تازما د آزادی- په‌نسبت زما سره کړی وې -

ستا خخه خواهش کوم چه زما دقدرور خدمتونه : رشتیاویل،بیله‌تردیده ستاسی‌دتولوامرو‌واجراته‌حاضرېدل، درپه‌زړه که ،چه بیله کوم شکایت‌می ستاسی‌دبنده گی‌حلقه وغوږته اچولی‌ده - (نور بیا)

رولا

(۲)

د فریددي موسسیه عجیبه قصیده
د ښاغلی عزیز الرحمن ترجمه

که څه هم زموږ ځنی لیکوال داعقیده لری چه د شعر په ترجمه کښې فایده نشته ځکه چه دیوې ژبې په شعر کې داراز عناصر وی چه هغه عناصر په بله ژبه کښې نه موندل کیږی ،

زموږ ځنی لوړ لیکوال دا نظریه لری چه د شعر په ترجمه کولو کښې ځکه فایده نشته چه دیوې ژبې د شعر او ترکیبتو او نورو شعری تلازماتو په مخ کښې یو داراز مخصوص کیفیت وی چه هغه د بلی ژبې به تورو او ترکیبو کښې نه ځائیږی او سره ددې چه موږ دا منو چه د هری ژبې نظم ځانته مخصوصه ممیزه لری لیکن په دی عقیده نه لرو چه وزن او قافیه د قصیدی مهم عناصر دی ځکه کله کله داشیان په هغه قصایدو کښې بالکل اهمیت او اعتبار نه لری چه د هغو مضامین او مطالب لوړ او خواږه وی .

هم دا سبب دی چه نن خلق په شعر او قصیده کښې وزن او موسیقی او نورو ظاهری ډولو نو ته بالکل اهمیت نه ورکوی او په بل عبارة ننني خلق شعر او قصیده صرف هغه شیانو ته وائی چه په بیان کښې د الفاظو د خاص تنظیم څخه کار اخیستل شوی وی او د تناسب لحاظ په کښې شوی وی هم دا وجهه ده چه نن خلق د پخوا په شان خپل شعر په داسی وزنونو او لحن نه وائی لکه چه د ډولونو او سریندو او نغارو او دا ریالو . سره ویل کیږی ، بلکه نن خلق اشعار او قصیدی له طبعی څخه په یو داراز کالو کی را باسی چه خلق ورڅخه هم د موسیقی خونداخلی او هم ئی په مطلب پوهیږی او هغوی په خپلو اشعارو او قصایدو کی د قوافیو څخه ځکه تیریږی چه خلق ئی په مطلب پوه شی او د مطلب او روح په مقابله کښې الفاظو او قیافیو ته اهمیت نه ورکوی .

که دا رویا د فن د خاوندانو شعرونه او قصاید و اروېدل شی نو ارو ېدو نکی به په اول ابتداء کی په دی پوه نه شی چه دا سړی شعر لولی او که نثر د نظم او نثر دویلو په طرز کښې ئی ډیر لږ فرق دی . او هم ددې له امله موږ د نورو لیکوالو په شان دا عقیده نه لرو چه د نورو ژبو اشعار او قصاید ترجمه کول ځکه یو ضروری شی ندی چه په ترجمه کولو کښې د هغو خوند او هغه خپل خاص اثر او ممیزه نه پاتی کیږی ، بلکه ددې په عکس موږ دا عقیده لرو چه یو پیاوړی او پوخ او پوه مقتدر ترجمان دا اقتدار لری چه د خپل فن او اقتدار په زور د غه شعر یا یوه قصیده دیوی بلی ژبی څخه په داسی خوږو الفاظو او لوړ روح را ترجمه کړی چه د هغی خوند او مطلب د پخوا څخه ډیر زیات او لوړ سی او کله کله چه شاعر د الفاظو په لومو کښې و موښلی او مطلب ور څخه پاتی کیږی دده څخه نه پاتی کیږی بلکه دی خو د الفاظو له قیودو څخه بېخی آزاد وی .

سره ددې چه فرید دې موسیه ډیر زیات مقتدر او داسی لوړ شاعر دی چه دی په آسانه د الفاظو او قوافیو په لومو کښې نه موښلی ، لیکن سره ددې موږ ئې د رولا په قصیده کښې وینو چه په ډیرو لومو کښې موښتی دی او په کوم ځای کښې چه ورله په مخه د الفاظو او قوافی غرونه راغلی دی نو دده د مطلب لارئی ور څخه خطا کړیده لیکن موږ په دی ترجمه کښې صرف د فکر او عواطفو او اسلوب تابع یو او په دې صورت کښې موږ دا کولای شو چه دده د فکر او عواطفو په ډیر ښه شان تعقیب وکو او موږ د هیڅ مضمون او شعر وغیره په ترجمه کولو کښې د اوزانو او قوافیو په لومه کښې نه موښلو ، او په ډیرو اسانو او خوږو الفاظو د لیکوالو عواطف او احساسات د خپل قام د استفادې د پاره ترجمه کولای شو . هر کله چه ځما عقیده د نورو لیکوالو څخه بل رازده نو غواړم چه پدې لاندی کرښو کی د رولا د قصیدې پدې شان ترجمه وکړم چه زما په اقتدار تجاوز ونکړی ، او په یو داسی مسلك ولاړ شم چه بالکل د مشکلاتو څخه پاك وی . (د مقدمې پای)

د مطبوعاتو نړی

د اصلاح پښتو یا داشتونه

رشتیاده چه پښتانه هر عمل ته عزم وکی هر و مرو بیله کوم تردده هغه عمل انجام ته رسوی او بیله وپای ته رسولو د هغه عمل له اقداماتو څخه لاس نه نیسی .

په دی عصر کی پښتانه غواړی چه د خپل پښتون زلمی ټولواك په توجه خپله ملی ژبه پښتو ژوندی کی ، نو هر پښتون ودی کارته په ډیر صمیمیت او په پښتنی همت ملاتړلی ده او ورځ په ورځ په دې لار کی دیو نوی قدم اخیستلو زیری اروو .

ښاغلی « تره کی » چه د پښتنی احساساتو ډك زلمی دی تر دې وروسته ئې دا تصمیم کړی دی چه دا صلاح یا د داشتونه په پښتو او بیا په خپل قلم و لیکی څنګه چه موږ د اصلاح شمارې لیدلی دی په دې عزم کی مؤفق شوی دی او دا دده پښتو ډیر د قدر وړ ده .

موږ و ښاغلی « تره کی » ته خپل صمیمی تبریکات وړاندی کوو او د وطن و نورو زلمیانو ته هم د ملی ژبی د خدمت توفیق له خدایه غواړو (د صحافت څانګه)

دکابل کالنی ۱۳۱۹

که غواړئ چه خپل کتاب کور (کتابخانه) په یوه ښکلی گټور کتاب ښائیسته کئ

چه هر راز علمی، او ادبی اطلاعات لری او د ژبی د علم مختلفه موضوعات

او د ۱۳۱۹ سنې دولتی اجراءات او نور ښه ښه جذاب گراو رونه

پکښ ستر.

او یا که مو خیال وی چه یو څه کافی معلومات ستاسی پر علمی ذخیرو

اضافه شی او د مملکت محسوس ترقیات چه په ۱۳۱۹ کال کښ شوی دی

وو ینئ نو (دکابل کالنی ۱۳۱۹) یوه نسخه هر ومر وو لاس ته د رو ئ.

قیمت؛ کپرئ وقایه، ۳۰ افغانی ۳۰ پوله

کاغذی " ۲۲ ۲۵ "

د پلور لوځای: د مطبوعاتو د مستقل ریاست د اجرائې مدیریت

THE LIBRARY OF CONGRESS
JUN 24 1942
GOV'T PUB'NS R. R.

NOV 2-1949